# په ده څه شوي دي؟!

انورشاه په کوراوکلي کې منلی اوټولوته ګران ځوان و،هرچاسره يې خوله خنداوانډيوالي درلوده.داوړي په ديرواودژمي په پيتاووکې به يې خپل وزګاروخت دهمزولواويارانوسره په خوږوکليوالی قصواونوروبحثونوتيراوه.دمشرانويې درنښت کاوه اوکشرانوباندي به يې شفقت درلود.داوه دده د ژوند هنداره په کوراوکلي کې.

وخت ګړندی تيريده حالات بدليدل اوورسره جوخت دهرچاپه څيره کې ښه اوبد بدلون څرګنديده.دوخت داوښتوله مخي انډيوال انورشاه هم بدل شوي و،په کړووړواوناسته ولاړه کې يې ښه ښايسته بدلون راغلي و.نورنوسړی ديارانوسره دګپ اوشپه لويدلي و.تريواوچلې اوکښلي سترګي يې چاپيريال ويروه.دمشرانوڅخه اوس ده سلام غوښته،کشران خويې هډونه منل.

په کورکې يې بله لوبه نښلولې وه،خپله کوټه يې بيله کړي وه اوخپلې کوټي دوره په مخه يې دکورنۍ دغړوسره دليدني کتنې مهال ويش ټاکلی واوکله به چې دی په کاله کې و،نوخواره موربه څارل چې څوك کوټې ته پرته له مهال ويش څخه ورننه نه وځی.ډيرځل يې خپله مورپه دي دګلې هم وه.

دکورنۍ غړواوپه تيره بيامورېې حيرانه پاتي وه چې په انوري څه وشول؟!ولی يو په يوه په بله واوښته؟!دکوره بهراودننه ټولومنلی وه چې په خوارکي کوډي شوي دي اوداکوډي بايدماتي شي نوځکه خودکوډګرواوملايانوپه لوري يې دکورنۍ غړي وخوزيدل.چاتوتکی راوړي اوبل چاتعويذونه.توتکی به په پټه په اوبوکې ګډي شوي اوپرې وڅښل شوي،تعويذونه يې په بالښت کې دننه پټ ګنډل شول.ټول په تمه ووچې اثرات به يې څرګندشي څه موده تيره شوه دتوتکو اوتعويذاتواثرمعلوم نه شو.سړی نورهم خرابيده،بله چاره نه وه،بيايې نژدي خپلوانواودکورنۍ غړوفيصله وکړه چې څوك دي دهغه دکارمحل ته ورشي اوتپوس دي وکړي چې هلته څه تيريږي؟!

همداوچې مشرکاکايېکومه ورځ هغې اداري ته چې ده په کې کارکاوه ورغی،هلته يې دباندی ديومامورنه دانورشاه په هکله پوښتنه وکړه!

-ګوره وروره،دلته پدي اداره کې انورشاه پيژنې؟!هغه ورته ښکته پورته وکتل،لږڅه دځنډ وروسته يې ځواب ورکړ:

-هوزه یې پيژنم خو هغه اوس څوك نه پيژنې.
کاکايې سوړ اسويلې وکړ اوپه پريشانی يې بياوپوښتل:
-داولی په ده څه شوي دي؟!
مامورپه کراره ځواب ورکړ:
-داداري آمرشوې دی.